لوبیه

دشعرونو مجموعه

صفیه صدیقی

لوپټه

PROPERTY OF
ACKU
2806

د

شعرونو مجموعه

صفیه صدیقی

کال ۱۳۶۷

کتاب : لوښه
شاعره : صفیه صدیقی
دچاپ شمیر : ۲۰۰۰ توکه
نومره : ۲۱۴
مهتمم : الف،عبدالرحیم زی
دچاپ کال : ۱۳۶۷ ش ۱۹۸۸ ع
دچاپ ځای : دولتی مطبعه، مانو تایپ

په دې لوپته کې

سريزی	الف
زما لوپتی	۱
شهیده	۳
زیري	۵
خیال	۷
دمحبت ګاونه	۸
پښتنی نښی	۱۰
حقیقت ډولی	۱۱
سوري تنر	۱۲

عنوان	مخ
د شاعر باور	۱۵
سري جندي	۱۶
کاته	۱۷
د معراج منارې	۱۸
دګلکښ په‌تمه	۱۹
کله نا کله	۲۱
د‌مینې دنیاګی	۲۲
ګیلی	۲۴
د‌مینې شپې	۲۶
دخزان غیږ	۲۸
غزل	۲۹
د ژوندا‌سری	۳۰
د مینې مشال	۳۲
د‌مینې دیوي	۳۳
ځلانده ستوري	۳۴

عنوان	مخ
ښکلی شعر و نه	۳۶
پر بو کو	۳۷
گیله	۳۸
فر یادو نه	۴۰
یاغی عقل	۴۱
پر اوې گل	۴۲
زما شعره!	۴۳
دمز ار دیوي	۴۴
د هجر او ر	۴۵
دزړه سر اندي	۴۶
داو ښکو ساحل	۴۷
د عشق کلی	۴۸
زو لنی	۵۰
د پر هر ستر گی	۵۱

عنوان	مخ
دغربي اوښکی	۵۳
غزل	۵۴
تپوس	۵۶
د یادګار دیوي	۵۷
جونګړه	۵۸
سوي سهرګی	۵۹
موسیدلی هیلی	۶۱
رنا رنا به‌وي تل	۶۳
رنګینه دنیا	۶۵
غزل	۶۷
د هاغه کلی	۶۹
دحیا په‌اور	۷۲
لمرته	۷۳
دحسن نذر	۷۶
دمینی ګلان	۷۷

دلو ی خدائ په نامه

سریزه

دشعر یوه لوپتمه او دلوپتی یوه شاعره

هغه وخت چې یو څوک زمونږ په ادبیاتو کې دښځو دوندې په باب او یا په عمومي ټولګه دښځینه لیکوالو او شاعرانو په هکله څیړنه کوي او یا څه ویل غواړي نو له هر څه مخکې یې باید دې ته پاملرنه وکړي وې چې زمونږ دټولنې زمونږ دچاپیریال حالات او شرایط په دې اړتباط څنګه دي ؟ او یا څنګه دی ؟ کله چې غواړو چې د همدې مسألې د یوې روښانه کړنې

٥١

نو په ډير سرسري او عادي نظر هم ليدلی شو چې په‌دی برخه کې ډيری ستونزې زمونږ خو يندو شاعرانو او ليکوالو ته پرتې‌وې‌او لا پرتې‌دي تر هرڅه دمخه دزده کړې او سوادله نعمت څخه که په عمومي‌توګه زتوټ‌ولوطن اکثريت محروم و،نو دی اکثريت، اکثريت‌ښځې‌او جونه جوړوي،له‌بلې‌خوا په‌علمي، ادبي او فرهنګي‌برخو کې دهغوی دګډون امکانات ډير کم وو او په‌دې برخو کې‌لامو راوس‌هم له‌ستونزو سره مخامخ يو.له همدې کبله دښځينه‌ليکوالو او شاعرانو لږ کارته هم زيا ته پاملرنه په کار ده.

خو صفيه‌صديقي زمونږ د ځوان نسل له هغو شاعرانو څخه‌ده‌چې تل يې‌شعري او ادبي کار له هڅو،ولولو، تينګاراو پرله پسې زيار څخه ډک‌دی. ډير لږ کلونه کيږي چې‌هغه‌مونږ‌دشاعرې‌په‌نوم پيژنو. په همدغه« لوپټه » کې‌هم د۱۳۶۳او ۱۳۶۴ ش کلونو‌څوشعرونه رانغاړل‌شوي‌او نورې‌نوزياتره‌د۱۳۶۵ کال شعرونه‌دي. دهغې‌دپيل‌شاعري‌سره‌له‌دې‌چې‌د يوشمير نيمګړتياو لرونکي‌وه ،خو‌مونږ‌وينو‌چې‌دغه‌ځوانه وينا‌واله څنګه‌ځان‌له‌شعري کمزورو يو‌او نيمګړتياوڅخه‌ژغورې‌او څنګه‌يې همېشنی هڅه‌دې‌خوا‌ته دمخې‌ځان‌ادبي، شعري‌او هنري کمال‌ته‌ورسوي ، هغې‌داتلاش پيل کړې‌او هغه به‌دې‌هڅې ته همداسې‌يوه «کمال» تدد رسيدو له پاره ادامه ورکړي .

دصفيې‌صديقي‌لوپټه له‌شعرونو‌څخه ده.په دغه لوپټه کې‌دهغې زياتره غزلې پرتې دي، خوهغې په خپله دغه‌لوپټه کې دخپلوا زادو شعري تجربو‌څخه بيا‌ګډې‌هم رااخستې دي. مونږ‌صفيې صديقي‌ددغه شعري‌دفتر اوپه کلي ډول‌دهغې داوسنی

ac

شاعری په باب چې دهغې دپېل شاعري ده ، له نورو خبرو وړاندې دغه څو مشخص ټکي په لنډیز سره مطرح کوئ شوچې :

هغه غوارې چې دخپل شعر په باب دهر چا نظر څان ته معلوم کړي ، دشعر په هکله دوستانو او استادانو مشورې په ډیري خوښۍ منې . داکار دهغې په شعري هڅو کې ډیر اغیزمن جوت شوی او که یې همداسې په ټینګار دامه ورکړه ، دهغې په شعري ، راتلونکو کار و نوکې به نور ، او نوي بري هم هغې ته ستړګې په لاره وي .

هغه یوازې په دې بسنه نه کوي چې گوندې دښځینه لیکوالو اوشاعرانو دنشتوالي یا کمښت له امله دې صفي ته لږتر لږه دیوې ښځینه شاعرې په توګه دآثارو دلوستلو او رولو اوخپرولو زمینه برابره شي . ماله هغې سره مخامخ هم تل په همدې ټکي بحث کړی دی ، ماتل هغې ته وایلی دي چې په دې برخه کې نه بایدیوازې په دې بسنه وکړي چې راڅه خو په ښځو کې پر ته له دې هم شاعرانې اولیکوالې نشته ډیري لږ ي دي ، او ته هم قلم راواخله ، دشعر په نوم یو څه ولیکه دشاعرې په نوم څان پر خلکو و پیژنه او دشعر و نوچاپ ته دې ملاوتړه . ددې په څنګ کې فن دستور و شعر ي او ادبي آثارو دچاپ دوران دی . عادي او سرسري شاعر ي ددغسې ستر و آثارو دایجاد په دوران کې ځای نه شي لرلی سو ل باید په خپلو ادبیاتو کې هم د دغسي آثارو دایجاددوران ته پام نه ولرو او که نه نو له نړیوال ادبي بهیر څخه به ډیر و روسته (هو ! ډیر و روسته) پاتې یو . په دغه لړ کې اوس زمو ږ له پاره او زمو ږ دنارینه او ښځینه تو لو لیکوالو او شاعرانو له پاره گډ ،

گار او ز یار په کاردی . صفیه صدیقی خپله هم په همد غه باور ده او له همدی امله ده چې هغه نه یوازې په خپلو شعرونه همزولو شاعرانو کې ، بلکې په خپلو نارینه همزولو شاعرانو کې هم (که هغوی راته په قارنه شي) د شوشعر نو لرونکی شاعره ده .

کوم بل تکی چې د صفیې په شعر کې او د هغې په شعرې هڅو کې دیادونې ور دی هغه دا دی چې تل سی د خپلو شعرونو د نیمګړتیاوو پوره کید و خواتـه هڅـه اړولې ده . او داخبره سوپه دې باوري کوي چې که د هغې د پرون د شاعرې کمزورې دنن په شاعرې کې نه شته او یا کمې شوې نو د هغې دنن د شاعرې نیمګړتیاوې به سبا په شاعرې کې نه وې او یا به کمې وي

نن د هغې په شعر کې یې له شکه چې لاهغه نیمګړتیاوې شته دی او باید هم وي هغه ډیر لاره نوی او خوانه شاعره ده د هغې په ځینو شعرونو کې به لاد ډیرو خبرو کلیمو او ترکیبونو بیا بیا تکرار هم وګورې د غه رنګه یې په ځینو شعرونو کې د غه شان تکرارې مسایل او مضامین هم راځي چې :

په دنیا کې که دنیا ده هغه ته یې	که دمینې تمنا ده هغه ته یې
خاموشي زما مذهب هم سی دین دی	داسې ژبه چې گو یاده هغه ته یې
چې دی مینه په گوگل زما میشته شوه	که د ژوندرا ته بهاده هغه ته یې
د دنیا عجیبې پیښې را ته هیڅ دی	په تیارو کې چې رنا ده هغه ته یې
زما مینه پښتنه ده تل یې پا لم	چې سی مینې ته وفا ده هغه ته یې
ما ز غملی دی جفا وی ستا د هجر	اوس په ژوند وسی موسکا ده هغه ته یې

بادامي چې :

په مخ دتو دو او ښکو ددردو سره درتلم
په زړه به ستا محفل ته دنسر و سره درتلم
تیاري وې تړو ږمي وه دو ممال لاري وې بندې
ډیو ې مې لګو لې دسجد و سره درتلم
رقیب راته و یل چې دې اشنا ګو څه ګې او ردی
په څو ګو دینو د خوشا لو سره درتلم
زړ ګو نه ټو مټو نه راته سا مینې بخښل به
نه زړه نه دسرو و ینو څخیدو سره درتلم

خو ګه دځینو د غسې زړ واو تکراري مسایلو څخه راښیرشو د هغې په شاعرۍ ځې پښې خو ړې، اوروانې غزلې هم زیاتې دي چې سو دیې یوازې څو څو بیتونه د نمونې له پاره مټاسو مخې ته ږدو :

داچې مې ارمان په زړه ګې و خندل — ستر ګې دې نن بیا بلې ډیوې بنکاري
سادې لو پټه ګې پټ سا تلې دی — مینه ګې دې نېسې پښتنې بنکاري
تا به په لیمو کې اشنا وسا تم — سترګې د غمازو راته سړې بنکاري
یا ستا نه بیلیدل سی اشنا نه دی زده — دا په اور سو ځل سی اشنانه دي زده
تاخو پیمانې په سر نسکو رې کړې — دادو ینو څنبل سې اشنانه دي زده
یو ځلې و ینیږ م ستا په هجر کې — سر په سر ژ ړل سې اشنانه دي زده

سو ږ د صفیه صدیقي په شاعرۍ کې تر ډیره ځایه دې تکې ته به متوجه کیدای شو چې ګله د هغې شعر و نه لو لو نو د یو مبتدیانه احساس شعر و نه لو لو. ګله ګله شاید

ځيني ښځې شاعرانې هم دعمومي شعري بهير په تقليد خپلو اساسي شعر و نه و و ايې چې که د شاعر يا شاعرې نوم و رسره نه وي ليکل شوي ، حتی د ښځو شعر و نو په پر خه کې هم سړی پوهيدی نه شي چې شعر د ښځې ليکلی که نارينه ؟ ! د صفيې په ځينو لومړنيو شعر و نو کې که کله کله داسې څرګنه و ليدل شي ، خو په عمومي ډول هغې دې تکي ته پو ره غو ر کړی دی . مو پر دهغې په ازادو شعر و نو او غزلو کې هم هغه ديوې پښتنې پيغلې په تو ګه په څرګنده ليدلې شو . دغه څو بيګې به يې و و يو :

بخته بيادې و خندل د پسا په مخ — او ښکې چې بهيرې نن زما په مخ
نه شم سخا مخ در ته کتلی چې — زلفې مې خو ړې شي د چا په مخ

يا: عشقه څو دې ستايم لاسغر و ړې ته — کله را ته غم کله سر و ړې نه
پو ړې دې لمبې په غم و هو کړې — ای خو اره غماز ه په تنو ړې نه

يا: ما دالفت څو لی څو لی ګلو نه
دعقيدت له باغه بسپار او ړې
بياسې ګيډی جو ړې د سر و ګيو کړی
ستا په پتکی په خپل و ر بل کې بې پردم

او: ته مې راښکو دې د جنو ن کو خې ته — چې مې ګلو نه په و ر بل کې بنو ده

لکه چې و مو و يل د صفيې صديقې په دغه لړ پته کې هغې دغز لو تر څنګه څو ازادشعر و نه هم ځای کړي دي .. دهغې آزادشعر و نه هم د هغې د نو ړې شاعرۍ په ځير لانو ر زيات کار او ټينګار ته ضر و رت لري . په دغه مجموعه کې يې « زما لو پته » دازادشعر يو مثبه نمو نه ګڼلی شو . يو ازې دغه پر خه يې چې د تصو ير لو شاعرانه بيان څو مره په زړه پو ړې ده :

زمالو پښې !

...ستاپه پلو کې مې داتول لیدلي

زما د کلي هاشدلي مینده

زما د کلي هاسپیري او گردو هلي پیغلي

زما د کلي هغه شې کروندې

زما د کلي هغه لوړې ونې

زما د کلي هغه مستې ولې

زما د کلي بې پروا ماشومان

زما د کلي هغه بوریمینده

او خوانې کوندې ښځې

داتول پلو لاندې ستا

مادي لیدلي ای زمالو پښې ...

تاکې مې مور

تاکې مې پلار

تاکې مې خور تاکې مې ورور

تاکې داتول راته نغښتلي ښکاري

په مایې گرانه یه درنې لو پښې

چې پښتنه یې پښتنې لو پښې

د صفیه صدیقی لو پته زمو ږ د ځوانې شاعرې، یانه ده چې و و ایو زمو ږ د پښتې شاعرې یو ه تانده او ښه مجموعه ده. دلو پټې په لیدلو او لوستلو، مو ږ په دې باور ې کیږ و چې که د شاعرې تلاش یې همداسې او له شعر سره یې مینه همداسې او له دې هم زیاته وه، نو سباته به هغه زمو ږ د شعر په شمله کې یو رنګین ګل وي..

د هغې د پښتو شعر لو پته دې لا بهکې او لا د رنه وي.

ز ر ین انځو ر

۱۳۶۶ / ۲ / ۲۵

ح

دشعر ونولو پته او دهغی شاعره

پر و نې چې سې شنار اته و عده د ديدن را کړه .

د زلفو په کمښو کې سې ګلو نه نه ځايږي

د پښتو داو سنۍ شعر بهير پر مخ رو اندی او د دغه کار و ان لاړ و يان له يوې
و رځې نه بلې ته ز ياتيږي . نوې تجر بې ګوې او نوی بر يالیتو بو نه لاس ته راو ړی
خو داو سنی دو ر د ځو ان نسل په شعر کې تر هر څه غز ل ز يات تر سترګو کيږی
او په دې و روستيو کلو نو کې د اسې د بری ځيرې نوې ځيرې يو په بل پسې را ښکاره
شوې چې په غزل کې طبعه ازمايی ګوې او د نو يو تجر بو او نو هټو نو سره

پر مخ ځي . په جو ليز لحاظ د پښتو شعر ښکلايزی په غزل کې ځای کوی هغوی ته ځو اب وايی چې همدغه ټکی داو سنی غزل يو ه عمده ځانګړ نه ده او د لر غو نی غزل سره يو جو ت تو پير .

خو زمو ږ داو سنی دغه شعري بهير په پلو يانو کی لکه د پخو ا په څير اوس هم د پښځينه شاعر انو و نه لږ ه ده چې د اځانته يو او ږ داو جلا بحث دی او بيلابيل عو امل لري .

خو له نيکه مر غه صفيه صديقی د دغه ځو ان نسل له رو ښانه خبر و څخه ده چې نن سبا د پښتو شعر په آسمان کی ر اځليدلې او دادب سره د ژ و ری علا قی او او مينی په و ج ه و ږ اندی تګ کوي .

لږ ه سو ده کيږی چې د صفيی شعر و نه د و ر څپانو ، مجلو او ر اډ يو له څپو نه يی په خپر يدو پيل کړی دی . خودا بايدو و ايو چې صفيی د خپلو هلو ځلو او ز يار په په نتيجه کی داو سنی د و ر په پښځينه شاعر انو کی څر ګندځای نيو لی دی او د هغې شعری لو پټه په پښتنی ر نګ ښکلی او ښايسته ده

د صفيی د شعر و نو ز ياته بر خه غزل جو ړي . يو څه نظمو نه يی هم و يلی دي او په آزاد شعر کی يې هم خپل قلم ازمايلی دی .

که د صفيی د شعر په ځانګړ تياو باندې خبری کو و نو د هغی په شعر و نو کی د يوي

be

پښتنی ځیره و ینو او دهغی غوښتنی، له وطن سره مینه، پښتو او پښتنو لوالە، پښتنی
روایات، د پښتنی مینی کړه وړه او پښتنی حیا او داځکه چې دا دیوې پښتنی لوپټه ده
هغه وایی :

راته رقیب چې پیغور ونه کول
زما په زړه کی غم کور ونه کول

دالو پټه د صفیی د شعر و نو لو سړ نی مجموعه ده ، د هغې دا دبی کار پیل دی
تو ځکه خو به څه ناڅه نیمګړتیاوی هم ولري خو مو ږ په دې با وری یو چې هغه به
په دی میدان کې ډېرې نوې تجربې تر لاسه کړي او ډیر و لو ړو مرز لو نو ته به
و رسیږي او داځکه چې د هغی په دغه لو سړ نی مجموعه کې د ا سی شعر و نه شته
چې د شاعر نازک خیالی شعری ښکلا او شعری قوت تري په ښه توګه څرګندیږی
لکه د مثال په توګه دالاندې بیتونه:

ما په او ربل کې سړ اوی ګل ایښی دی
دا خوشبوي د چا کاکل و روي

یا :

په ځنګدن کې مې ژ و ندون بیاومو نده
چې لو ندګر یو ان ته مې اشناو کتل

صفیه لخوانده او د هغی شعر هم لخوان دی امید دی چې پر مخ به لځی و ده به کوې
او د پخوالي لوړې درجې ته به رسیږي او یقین دی چې هغه به د خپلې ژوند علاقې
مینې، هغې او زیار په نتیجه کې د راتلونکی نسل د هغینه شاعر انو دلو مړی کتار
په سر کې روانه وي.

زه په دغه میدان کې د صفیې لا بر یالیتوب غواړم
او حوصله یې ستایم.

بریالی باجوړی

۱۳۴۶/۳/۳۱

Ca

زمالو پتمی

تاکی زما دشعر غوتمی و خندل

تاکی حیا دپښتو نوالی و ینم

تار پولی دهشملـه د زلمو

تادو طن دناوکی پرتنده

له خپلو سر و و ینو نه خال ایسښی دي

ستا !

ستاپه پوکی سی داتول لیدلی

زماد کلی هاساده پلرونه

زما دپت هغه شملی سینـدي

زماد کلی هاسپیري اوگردو هلی پیغلی

زما د کلـــی هغه شنی کر و ندې

زما د کـلـــی هـغـه لو ړې و نـــی

زما د کلـــــــی هغه مستی و لـــی

زما د کلـی بـــی پـــر وا مـــاشـــو مـان

زما د کلـــی هـغـه کو نډی ر نـډی

دا ټول پـنـو لاندې سـتـا !

مـادې لـيـد لـــی يه زمـالـــو پـتـــی !

زما د مـيـنـی کـــو رخـــو

ستا د گو ګل د زړ ه پـه سر و و يـنـو کـــی

هـســی ځـلـيـــږې چـــی سپو ږمی پاس په ا سمان کی گو ړې

تا کـی مـــی مـــو ر

کـــی مـــی بـــلار

تـــا کـــی مـی خو ر تا کـی مـی و ر و ر

تـــا کـــی د ا تـــو ل ر ا ته نغښتلـی ښـکـاړې

تا کـــی مـی ژ و ند تا کی مـی پټ تا کـی پښتو و يـنـــم زه

ځـکـه نو زما او ستا پيو نـــد کـنـــکـيـږې

پـه مـا يـی گر انه يه د ر نی لو پټی

چـــی پـــښـــتـــنـــه يـــی پـنـښـتـنـی لو پـــتـــی !

۲۵ ر ۹ ر ۱۳٦۵

دالاندي شعر مي خوانميرګ شهيدشيرين آغا او دهغه دپاکي لاري لارو يانوته ډالۍ کړي دي .

شهيده

کړمه سوګند ستاپه سلګو شهيده
ستادتور په ژوبليدو شهيده
سردي واري کړنه هيواده ځيني
دوينوسرو په تويدو شهيده
د خپلو اکي شهيده ستاپه ارمان
دارمانجن زړه په آرزو شهيده
ستاپه مزار چې سور بيرغ رپيږي
دسره بيرغ په رپيدو شهيده
دامي سوګنددي چې ستالار به پالم
ستادزخمونو په زګيرو و شهيده
زماپرونۍ به له سر، سره ځۍ
دعيو ادپالو په شمنو شهيده

ستادیتیم په‌سپیر و و چو شو نـــدو

هم‌په‌نیمگړ و امـیـدو شـهـیـــــده

چـی پـر و رتلی‌نو ماپه هاغـــو گو ره.

په‌شر نگیدلو ز و لنو شـهـیـــــدده

انتقام‌اخـــی‌ستادو ینو بـه‌نـــن

ستاپـه‌باتـو رو پـښتـنـو شـهـیـــــده

په‌خو ب‌ویده‌نده ملاتـــه خـــو ردي

ستاپه‌غیرت ستاپـه پښتو شـهیده

خـو ستا دو ینو وي خو اره رنگـــو نـــه

وي به زماپه تترسل زخمو نـه

۱۲۶۳ - ۷ - ۲۳

زیری

زه دسپیدو امتازی

ډیو ه پلاس تو ري تیاري ماتو م

دجبر ځلی زه له پښو غو رځـو م

چې دا دغم مانې شـی ړ نګه بنګه

چې پو لادي قوت ځی ز ړ و نه په در ز ار او لی

بیا هغه شر نګ دماتیدو خمـکه آسمان په نځیدار او لی.

دتو ر تمو یر دي به و ځـیر یري

بیا به دلمر له طلائی و ړ انګو نـه.

ز ما او ستامینه ځینګار و مـو ډ ـی

بیا به دی و ړ انګی هر ه خو اخپري شی

نړي به تو له خو شی ځینی نغمی نغمی شـی

که تیاري ماتی شـو لـی

کـه ډیـو ی و ځلیـدي

که دیتیـم ماشو م داو چی شـو نډي

لکه تنګی پیغلو تمی

تازه شوي وموسیدي

ددنیاغیره که په امن شوله

د سوزه‌و نکی جګړي او د بارووتوله دود

که‌دانسان‌په لورګولی زیاتی ونه چلیدي

تیاري‌به‌و تښتی تورتم به‌وسری

ډیوي‌به‌ولګیږي

زړوته ګرمی به راوړي

دلمر زرینی وړانګی

زه‌دسپیدو استازی

دادخوښی زیري سینه کی لرم

که‌سوله راغله‌او جګړه‌شوه پناه

که‌دنړي په هر یوګوټ کی چیري

کوتري والوتلی

اوشوه فضا بدله

هر څه‌به‌و اوړي دانسان په‌خوښه

زه‌دسپیدو استازی

دادخوښی زیري سینه کی‌لرم

۱۰ - ۸ - ۱۳۶۵

خیال

عشقه خو دي ستايم لامغرو رشی ته
کله راته غم کله سرو رشی ته
مادي په رغبت له سينی لاس واخيست
زخمه دزړګی ولی ناسو رشی ته
پوري دي لمبی په غمو هسو کړي
اي خواره غمازه په تنو رشی ته
نه په گوگل کی می خنجر لګی
اي دحسن خياله چی مخمو رشی ته
ستر گه دسبانه وي، شاعر کړلی
وايه دوسره ولی په غرو رشی ته
حسن که سمسو ردي وطن دي کړ
زړه دصفيی ته به سنظو رشی ته.

۱۰ ر۴ ر۱۳۶۵

د محبت ګلونه

ساد الفت ځو لی ځولی ګلو نه
دعـقـيـدت له باغه بيار او ړی
بياسی ګيډی جو ړي دسر و ګـلـو کړي
ستا په پـتـمـکـی په خپـل و ر بل کی يی ږدم
پاتی ګلـو نه به غـنـچـی غـنـچـی کـړ و
دچا په دو اړ و پښو کی ددي غنچو ګـيـډی ، ګـيډی به کيږ دو
بيا به په ګډه و ر شـو
هـغـه مالی ته چی ګـلـو نه کری
د همدر دی او و فا د صداقت او مينی
خو اړه تخمو نه کـــري

سو ړ به په ګډه و ر ته سلام و و ایو

ته د پټکی ګلـو نه ز ه د و ر بل ګـلـو نه

سر ه جو ړه به یی کـړ و

د ز ړ ه له کو سی به یی د هغه پښو کی کـیږ د و

بیا و ر ته و به و ایـو

سالی ګـلـو نه کـر ه! پـه هغو ز ړ و نو کی چی

د شار و د ښتو په شان و چی سپیری پر تی د ي

د د غو کلکو ز ړ و نو ،د د ی سپیر و ړ ا ګـو نـو

هـو ا بدله کړ ه ته فضا بدله کړ ه

و ر ته ر ښا و بښه د ر نګا ر نګ ګـلـو نـو

بیا به په ډ یره مینه

د هغو ز ړ نو شا ړ و د ښتو ته به

د محبت له و لی او به په لپو ر ا و ړ و

بیا به خـړ و ب شـی هـغـه

په کی به و تو کیږ ی د محبت ګـلـو نـه

٦٥ / ٥ / ٩

پښتنی ننبی

داچی‌سی‌په زړه‌خو ري و ري ښکاري
ماته‌دهجر ان بلی لمبی ښکاري
مینی‌لاپخوا په‌او ر رسیز لی یم
او س‌می‌هنگامی هسی تو دي‌ښکاري
ستادهجر تو ري‌شپی‌سبانه‌شوي
ځکه‌می‌سلګی و ړي وړی‌ښکاري
داچی‌می‌ارمان په زړه کی و خندل
ستر ګی‌دي‌نن‌بیابلی‌ډیوي ښکاري
مادي‌ئو پته کی‌پټ‌ساتلی‌دي
مینه کی‌دي‌ننبی پښتنی ښکاري
تابه‌په‌لیمو کی‌آشنا و ساتم
ستر ګی‌دغمازکه راته سر ي‌ښکاري
تو ر دي صفیه‌دغم‌پر و انه کړي
مینه کی‌دي‌بل رنګه‌قصی ښ کاري

۲۸ ر ۹ ر ۱۳٦۴

د حقیقت ډولی

ستر گی می‌ستادستر گو

دشنه آسمان په زړه کی

دو فاستو ري گو ری

زما دستر گو زړه کی

دا سیدو نو غو تی

په نخیدلو شو لی

دشنه‌آسمان په‌شااو خو اسیمه کی

غمازي و ریځی را غلی

خو دباران پلمه‌شو مجوړه و رتـه

زمالـه‌سـوی زړه‌نـه

یـو مسـیـلـی پاخـیـد ه

لـه‌بوړ بکیـو سـره

لاړ لـه‌نیغه‌دآسمان زړه‌ته و رننو ته

خو بیاسی و لیدل‌چی

نری‌نـري‌باران‌راو و ریده

هغه‌گلبو تی‌دغو تی‌شوي خړ و ب

گلان‌یی‌وسړ یدل

بیادخیالو ناوی سی

دحقیقت‌ډو لی کـی

دو افعیت‌دلوي و راوي سر ه

دنوي‌ژ و ندپه‌کالـه ننو ته.

۶۶ / ۸ / ۱۶

سوري تېر

توري وريځې تو رسابنام دي

دچا يادمې پر زړه اوري

چې سپو برمې له ډيره غمه

وريځ کې ډوبه ډوبه کيږي

هر مخ اتوري تياري دي

ياسپو برمې تندر نيولې

ياآسمان په غضب شوی

تر و برمې خورهو رهده

دوصال ډيوي رنډي دي

دسباستر گه و يده ده .

خدایه !د اثر نگه‌ژ و نددي ؟

دایـی‌خـنـگـه شـو گـیـري‌دي

کومه مو ربیابو ره‌شـوي

کوسه‌خـو ر بـی‌و رو ره شـوی

بیادچاد غـیـرت نـبـنـه‌لـه شـمـلـی نـه‌راپـر یـو تـی

بیاد چاگـلالـی سـتـر گـی

بیادچاخندا نی شـو نـدي

بیادچاغیر تی سر به‌تو ري خاو ري پر خپل تو ر زنگانه کیپو دي

بیـابه‌شـکل لکه‌دنـو رو

په‌گو لی‌سو ري تـتـمـر کـرې .

۱۳۶۵ - ۹ - ۱۴

دشاعرباور

چی‌ستر گو ته‌دي‌زير شمه غمو نه رانه‌هير شی
چی‌مخ ته‌دي‌نظر کړ مه‌گلو نه رانه هير شی
تکل‌دژو ندانه ته‌می روښانه ډيوه‌ته‌يی
ستايادچی‌راسره‌وي ارما نو نه‌ر انه هير شی
دژو ندپه رنگينوکی نوي نوي‌تو پان و ينم
خوستاپه تصور کی تول‌رنگو نه رانه هيرشی
پر دي‌شم له‌دنيانه‌چی‌قلم‌گو تو کی و اخلم
جنو نشم سر تر پايه زنځير و نه رانه‌هير شی
چی کانی‌پته‌تمر راته دکليو بچی‌راکړي
نشه‌شمه‌دسينی تول‌خندو نه‌رانه‌هير شی
همداسی ليو نی دليو نو سره به‌بنه‌يم
شر اب‌دسينی راکړه چی‌عقلو نه‌رانه‌هير شی
طعنی‌درقيبانو په‌گو گل‌می‌سر په سر دي
اشنالاره‌راښيه چی‌دردو نه رانه هير شی.

۲۸ ر ۷ ر ۱۳٦۴

سړی جنډی

زما شهیـــدو اوښـــکـو
په‌ســـره‌ډو لـــی پـــه‌ســـره کفن کی‌یی‌نـــن
دیارد کلـــی پـه‌لـــو ر
تکـــل دتللو یی نن پیا کړیدي
خـــو ســـر گـــر دانـه ډو لـــی
پـــه کـــی دنـــنـــه
نیمـه خـــو انـاو کـی
دآسمان‌حـو ري‌پـــر و ډو و گـر ځـوي
خوزما هو ډدیار پـــه لو ري دي نـن
او زمادغـــه‌خـــو انمیرگی‌او ښکی
میشته‌دیار د زړه‌په کو ر کی‌به وي
ځکا چی‌تو لی‌هډیري‌ډ کی دي

له‌سر و جنډو
له‌سر و کفنو زلمو

۱۲ - ۹ - ٦٥

کاته

رایادشـــی هغه و خت چې دې آشنا خوا ږه کـــاتـــه و و

پر اته دې پـــه لـــیـــمـــو کـــی ددنـــیـــا خوا ږه کـــاتـــه و و

نسکو ري سی لیدلی دا سید د گلـــو ځانگـــــی

گـــو گـــل کـــی چـــی پـــر اتـــه ســـتـــاد حـــیـــا خوا ږه کاته و و

له ستر گو به سی او ښـــکـــی په گـــر یـــو ان شوي سر و ري

پـــلـــمـــه به تر نـــم تـــه د ســـبـــا خوا ږه کاتـــه و و

د مینې د نیا گی کی تـــانـــدي هـــیـــلـــی تښتـــیـــد لـــی

شلیدلو گـــر یـــو انـــو تـــه د لیلا خوا ږه کـــاتـــه و و

ما پر ینبو د چـــی ر قیب سی د ارمان په او ر کی و ر یټ شی

په ستر گـــو کـــی د اســـتـــا چـــی د خـــنـــدا خوا ږه کاتـــه و و

په زړه د صفیې شوي د و فا شمعې ر و ښانـــه

په ســـتـــر گـــو کـــی چـــی هلـــتـــه د و فا خوا ږه کـــاتـــه و و.

۱۷ ر ۳ ر ۱۳٦٥

دمعراج منارى

دمینی کو رته په‌او رو تیر یږم

زه دگوگل په‌و ینوسر و تیر یږم

اشنا چی ته‌به کوسی لار ي خار ي

زه‌دي‌دستر گو په کوخو تیر یږم

خپلو سندر و کی دي سایا دوه

لکه‌نغمه به‌په تار و تیر یږم

روح سی‌دي تاسره ترلی خو بیا

پته‌په‌دو دزه دو ږسو تیر یږم

سباسی مه‌گو ره دژ و ند په بلی

لکه‌شبنم دنیمو شپو تیر یږم

راشه‌چی ماتی کړو کړي دبیلتو ن

څو به‌دي خیال کی دو ختو تیر یږم

چی‌دی‌داو ښکو په‌بار ان لمبیدم

او س په‌گلپا نو دسپر لو تیر یږم

خو چی‌ته رسی دو صال کو څی ته

زه داسمان په منار و تیر یږم

۱۳٦٥ - ۸ - ٦

د ګلګښ په تمه

زه تو پانی څپو کـــی

او بوا خستی یـــــمه

چی دګل ګښ په هیله هرځه ته لاس اچوم

زد ګلګښ دغاړې ښو یو ګټو

شګلنو بوټو ته یی

تشی منګلی و ړمه

اوبه مې لاړ وبه وی...

ګلګښ ته نه رسیږم

د ژغورون لاره نشته

په سترګرداب کی چورلم

څو بیاد خیال آسمان ته

والوزمه ځمه پسی

چی دژغورون مرغی می پرآسمانو پیدا کړم

چې ما .....

چې مادسرګ له پولې وژغورې خپلوا کەسې کړي
را کړي دښه ژوندانه زیري په زړه شاده سې کړي

هر خواته ګرځم پسې
په هر ەجګه چنار ي ونه کې
دهغې ځاله ګورم
شایې زما دژغورون
سرغې پنجره کې به وي

چابه وزرنه ورسات کړي وي چې وانه لوزي
ځکه هر څوچې تینده کونه وهم
څوک خلاصوي سې نشې
له زولنو ازاده وي سې نشې
او به سې لاډوبوي
لکه رنړه هسې ټپر یږمه زه
او بو اخیستې یمه
خو د ګلکښ په تمه خوشې خوبونه وینم

۱۳٦٥ - ٦ - ۲۷

کله نا کله

په زړه کی دلیمو چی اوسیدي کله نا کله
د اوښکو په باران به لمبیدي کله نا کله
که هسته به خاي نه و دزړه کور کی به میشته وی
تو پان کی دآهو نو و رکیدي کله نا کله
ارمان چی دي دهجر تو رو شپو ته تنها پر یښوم
که نه زما تر څنګ به سوزیدي کله نا کله
تر څو به هغه لاره له اغیارو پته ځارم
په ستر ګو کی چی هلته خندیدي کله نا کله
آشنا چی سی سنلی جفاګانی خپه نه وم
له هجره به سی اوښکی بهیدي کله نا کله

۱۳۶۳ - ۱۰ - ۳

دمینی دنیاگی

همداچی پەسینه کی می اهو نه نه خاپری
دستر گو په کاسو کی می او و و نه نه خاپری
گر یو ان اختیار یا یللی سی سیلاب ته دی داو بکو
ماشو م زړه کی سی خدا پرو دار نخو نه نه خاپری
ر یبار ه پار ته و ا یه چې د خدای له د پارۀ راشه
مالت کی می دمینی پیغو ر و نه نه خاپری

تصویر دچادعشق‌سی تصور کی‌ځای په ځای دي
داځکه‌سی په‌سر کی نو رفکر و نه نه‌ځا پیږي
که‌سل راته عالم‌دلیو نو په ستر گه گو ر ي
دمینی لیو نتوب کی‌سی عقلو نه نه‌ځایږي
داو لی‌ساپه مینه کی ملگر و گر مه‌بو لی
ر ینبتینی‌دنیاگی کی سی‌رسمو نه‌نه‌ځایږي
پر و ن چې سی‌اشنا راته‌و عده‌دیدن‌را کړه
دزلفو په کمځو کی سی‌گلو نه نه‌ځایږي
سر خی‌و ینم شفق کی‌دایی‌زړه په‌ماسیز لی
په‌شعر دصفیی کی نو رغمو نه نه‌ځایږي .

۱ - ۱۰ - ۳۶۴

PROPERTY OF ACKU 9806

گیلی

ښته پیادي و خندل دچا پرمخ
او ښکی چی بهیږي نن زماپرمخ
ماپرون له تانه کړي گیلی ولی
نن بیخوده لاړم دبیدیا پرمخ
نه شم مخامخ د رته کتلی چی
زلفی سی خوری شی دحیا پرمخ
ستاپه تبسم کی وی گیلی پرتی
ستر گودي رانه وړه رانه داپرمخ

مینی کی‌دي شپی هسی‌رنی نه شوي

او ښکه دسبا شوم د سبا پرمخ

کله پسر لی کله خزا ن دي شم

ستر گی‌مَی‌پر انستی دلیلا پرمخ

زړه‌مَی‌ځی داو ښکو له کاروان سره

راشه که‌مَی‌گو ري دصحرا پرمخ

مینی بی‌له‌تامَی‌ژ و ندون‌هیڅ گنهم

نه‌خاندي ارمان‌مَی د هر چا پرمخ

رایی و ړه ډولی د نیمه خوا ارمان

و ینمه‌شغلی یی دبر یښنا پرمخ

ده دصفیی دبی بختی نښه

هسته‌پر دنیا شوه دژړا پرمخ

۲ – ۳ – ۱۳٦٥

دمینی شپې

په زړه سی دتو رتم تو ر ي تیار ي دي چې راځی

اشنا په ماد هجر گر دلی دي چې راځی

داسو ي زړه سی گو ره په زړه پټ لر م داغو نه

همداسی سر په سر د غم شیبی دي چې راځی

ز ما پښتو نه سر ه ته خو ه یخکله تیت نه و ي

او س گو ره تیتمدو ته دي سجدي دي چې راځی

اشنا چې سی نسکو ره شوه په زړه سپر غی دمینی
تر خو لی سی لوګی خیژ ي څه لمبی د ي چې راځی

یاغی پښتو سی ګو ره په یاغی نظر پر یو تی
ګو ګل ته د یاغی عشق سلسلی دي چې راځی

اشنا ګړي ګړي شو ل ستا د مینی حسر تو نه
په شر نګ کی د بنګړو سی زو لنی دي چې راځی

مز ار دار زو ګانو کی سی تاته دعا و ګړه
تو ر تم د حسر تو کی سی ډیو ي دي چې راځی

خو عشق د صفیی ګړمه رسوا په کلی کو ر کی
همداسی ژو نی د مینی شپی دي چې راځی .

۱۰ - ۸ - ۱۳٦٥

دخزان غیږ

تاچې یادو مه نو ګریوان په اوښکو ولامبی
یاره انتظار کی دي هجران په اوښکو ولامبی
واخله ژوندہ واخله ستاخو ښې شه مبارك درته
پرپږده چې سینه کی سی خپګان په اوښکو ولامبی
دي زاړه ګوګل کی دي زړي کیسی پرتی
ځوانی شی یه هیلو چې حیران په اوښکو ولامبی
تابه په ګریوان یادو ربل دپاسه وساتم
پټ په زړه کی ښه یی چې ګلان په اوښکو ولامبی
پرپږده چې سینه دهر چا په خوله کی وغورځی
پرپږده په ارمان کی سی اسمان په اوښکو ولامبی
پرپږدي چې داخیري ګریوان نور لاپسی خیري کړم
خوسوی ګوګل کی سی ارمان په اوښکو ولامبی
ګل دپسرلی وم دخزان په غیږ کی مړاو ي شوم
پرخه دسهارشه چې خزان په اوښکو ولامبی

کال : ۵-۳-۱۳۶۵

غزل

یاره چې ستامی ناسزا وکتل
سین زړګی ته‌سی حیا وکتل

تل‌سره ري وي او تنی‌چې په‌سخ
نن راته هغو اوښکو بیا وکتل

په‌ځنکدن کی‌سی‌ژوند ببا وسوندە
چې‌لوندګر یو ان ته سی آشنا وکتل

په‌وچو شونډو به‌خوښی ښکاره شی
یو ځل‌دی‌بیا که په سوسکا وکتل

اوس سنګی د هغی لاري کوم
تابه‌چې هلته په خندا وکتل

لکه‌هداره خه‌حیرانه شومه
تاچې‌سی‌عشق ته‌په رښتیا وکتل

زړه‌سی‌غوږیږي‌خه‌اسري دي په کی
پریشانه ژوندته چا زماوکتل

ستاد هجران شپی‌سی سبا کړي هله
چې‌په خندا راته سباوکتل

۱۳٦٥ - ٦٧ - ٢٧

دژوندا سرې

ستر ګی دې ډیو ي دي دا ډیو ي دي ز ما خو ښی

سو ز نده لمبی دي دا لمبی دي ز ما خو ښی

ستا ښکلی نظر کی را ته ښکلی جهان خاندي

ښکلی نظار ي دي نظار ي دي ز ما خو ښی

هجر دي ما ښام کړو په سهار دا سی دو سی

خیر د ي که او ږدی دي خو دا شپی دي ز ما خو ښی

سینی ستا جهان کی سی دژو ندتو لی اسر ي دي

ښندي که سی ژبی دي ز و لنی دي ز ما خو ښی

کله د هجران کله وصال په مامینه شی
د رنګ په رنګ نخري دي دانخري دي زماخوښی
تاسره و لاړه دغیرت په هسکه غاړه یم
دا دننګ میلګی دي داجذبی دي زماخوښی
څنګه ښه شو خدایه ! چې پیدا له پښتنی دي کړم
چیري چې د رنی دي پښتنی دي زماخوښی
ستر ګو کی موسکی شه د دعاو ږي دي نه یم
ستا په خوله ښیري دي دانیري دي زماخوښی
زه د صفیی د هیلو خو ځنده کاروان دي
ژوندته سی اسري دي دا اسري دي زماخوښی .

۱۳ - ۸ - ۳٦٥

دمینی مشال

راته غمونه دصحرا پاتی شول

په زړه داغونه داشنا پاتی شول

چې دي په دنګ او ازو نه غوړيدم

کله پوکې دمسيحا پاتی شول

يه زما آه ، او ښکو درنو سلګرو

خه اميدونه نيمه خوا پاتی شول

چې دهر چانه بيګانه غوندي شوم

تش راته پيتی دسودا پاتی شول

تولی خوښی سی سروري ښکاري

تش ستاغمونه راپخلا پاتی شول

دزړه په وينو چې ونه لمبيدم

دارمانونه سی تنها پاتی شول

۱۳٦٥ر٥ر۱۷

دمینی دیوی

خه راته ولیکه اشنا په زړه کی

چی شمه پاتی ددنیا په زړه کی

خو په سندرو کی سی تایا دوم

آواز آوازشم دیید یاپه زړه کی

لکه دشمعی خاموشی سی سیزي

کله ځایږم دوینا په زړه کی

چتنگه وسوزه په پښو کی دیار

سوي لمبه شه درسوا په زړه کی

جنونه خه ښکلی نخره شوه دژوند

پته سپرغی شوم دحیا په زړه کی

اورته سی واچوي چی لولپه شم

لمبی خوري دني لازما پدزړه کی

سوتی سکاره شوم عشقه ستا په کوڅه

نبه شو تل پاتی شو مه ستا په زړه کی

تیاري روښانی کړي دعشق په دیوو

خو چی ځایږم دسبا په زړه کی

۵-۸-۱۳۶۵

ځلانده‌ستوری

زړګی‌مې بیادتو پان غیږي له‌ځی

چې‌مې احساس دبیان غیږي لـه‌ځی

زماپه‌شو نډو سو سکا ډه غو ندي‌شوه

دژ و ند سپر لی دختر ان غیږي له‌ځی

سبا که‌ګل غو تدي و نه رژ پدم

او بنکی زساداحسان غیږي لـه‌ځی

خو دبه غو ږيږم دقلم په و ينا

تتې ډيو ي دارمان غيږي له څې

له خوشالي دشپې ډيوه شوم و رته

سلګې سې نن دخپګان غيږي له څې

داو ښکو رو دسې لالهانده ښه دي

چې اسو يلې دګر يو ان غيږي له څې

پر يږدي چې سه زم په لمبو دمينې

دا قافله دهجر ان غيږي له څې

را ته مشال دتر بر سيوونه شو ي

تيار ي لاهم د پر يشان غيږ ي له څې

دصفيې دشعر خلانده ستو ر ي

په تينده کې داسمان غيږي له څې .

۹ - ٦ - ۳٦٥ ه

ښکلی شعرونه

تاچی به خپل خوا ږه یادونه شمیرل
مادعاصی ژوندون غمونه شمیرل
تابه یې تولی رنګینی یادي کړي
ماتورتمونه تورو ختونه شمیرل
ستابه په زړه کی څه خوښی وي هله
مادغمونو انکارونه شمیرل
ته به دچاپه وینو مست ګرځیدي
مادرنځور اولس رنځونه شمیرل
چې د شفق لمن رنګینه شوله
چابه زما دزړه داغونه شمیرل
بس ستا یادونه خاطري خلاصی شوي
صفیی خپل خوا ږه شعرونه شمیرل .

۱۵ - ۷ - ٦٥

بربو کو

څو لیو نی ستا په کو څو کی اوسیی

د و فا گل سی په کمیڅو کی اوسی

رقیب سی و کوت یاره ستا په بلی

ز هیر زړگی سی په لمبو کی اوسی

عشقه جنون دي بی پر وا غو ندي کړم

خو د به سی عقل زو لنو کی اوسی

دتو رو شپو په زړه کی تا یا د و م

خو چې خو بو نه شو گیر و کی او سی

زما د زړه کر و نده شاړه شکا ر ي

لا تړې او شکی په بنو کی او سی

نن چې سی ستالا ره خار لی نه ده

ستر گی سی گو ره په اغز و کی او سی

زما په هلته و ي ا خترد خو بښی

چې سی ر قیب د غم پو لو کی او سی

هجر سی ستا په ساښاسو کی و ژ نی

ځکه سی روح په بربو کو کی او سی .

۱۳٦٥ - ٦ - ۲۷

گیله

خاونده څوکه‌دي هرڅه راکړي
بی‌له‌غمودي وایه څه‌راکړي
یادي خوښی دزمانی سر په‌سر
یادي‌غمونه‌ټول‌په‌زړه‌راکړي
«واخله دنیادي زه‌دي وړي نه‌یم»
چی‌دي‌دغم سره‌میشته راکړي
گمان سی کیږي څوك‌یی زغم‌نه‌لري
ناته‌دي زړه کی‌میلمانه راکړي
چی‌بی‌پردي غږیږم گرمه‌نه‌یم
یه‌سخ څپیړي‌بیلتانه راکړي
سابه‌خوښی دژوندانه غوښتلی
تاراته‌داپه‌وینوسره راکړي
بس‌نو په دي‌شکرگذاره دي یم
چی‌قام ټبر دي پښتانه راکړي .

۱۳٦۵ - ۹ - ۲۰

فریادونه

راته رقیب چې پیغور ونه کول
زما په زړه کې غم کور ونه کول
چې دتور تم ګریوان رنا څیرلو
مادي د مینې پنزلونه کول
زما په زړه د غم سپرغی وی پرتی
تاد چا یاد کې شو ګیرونه کول
خو دبه سی او ښکی په ګریوان بهیږي
رقیب دي ساته قسمونه کول
عشقه در دونه دي جاسی شوي زما
ولی دي دم په دم ستونه کول
وایه دا بیادچا په زړه لوبیدي
چې دي په ستر ګو کې نکلونه کول
سرګه راتګ نه دي خبره وسه
زړه په ګوګل کې سی توپونه کول
زړګیه آه دي څه اثر ونه کړو
دا دي نو څنګه فریادونه کول .

۱۳٦٥ - ٦ - ۲۱

یاغی عقل

چې او ښکې په سخ راغلې دریابو نه زیږیدلی
زما د هجر شپو ته داو ختو نه زیږیدلی
چې پښو ته د خپل یار لکه داو ښکې بهیدلې
د شمعې سو زیدو ته محفلو نه زیږیدلی
د ستو رو په ځلا کې لټو م د یو ې د ستر گو
د خیال په اسمانو کې می سر گو نه زیږیدلی
د دام به یم اشنا لکه خزان و هلی پاڼه
د زړه په واه کو ر کې می د ردو نه زیږیدلی
سیر ات شو ي رانه پاتې یه زما د هجر کو ره
د وصل شنه سها ر کې می او رو نه زیږیدلی
اشنا خو د دي هجر ان په ما د عمر ښیلمه کیږي
زما د بخت په کو ر تیاره و ختو نه زیږیدلی
په خیال د صفیې چې د رنگو نو باران او ر ي
کو م عقل یاغی شو ي چې شعر و نه زیږیدلی .

۱۳٦٥ - ۸ - ۲٥

مړاوی گل

چې‌سی‌غمونه‌په‌گوگل‌او رو ي

په‌ساد سینی نو ي گل‌او رو ي

زماگیله دخپلی خولی نه کیږي

چې‌سی‌تو بی‌ستاپه‌درشل او رو ي

دسیلانی‌سرغی‌په‌دود سی زړگی

خوشی‌خځلی‌په‌ځنگل ٔاو رو ي

چې‌لاړو ي دقافلو نه‌شوسه

او ښکی‌شبنم‌سی په‌منزل او رو ي

ماپه‌او ربل کی‌مړاو ي گل‌اینبی دي

داخوشبو ي دچاکا ل او رو ي

لاسی‌دژوندخزان راغلی نه‌دي

په‌گریوانه او ښکی بلبل او رو ي

دایی‌نوخنگه دوه رنگی شوه دژوند

تاته یومخ اوساته بل‌او رو ي

زماشعر

ته‌چی‌په‌ماو ر ي‌تصو یر و نه‌په‌ماو ري

دخیال‌دآسمانو نه‌می گلو نه‌په‌ما او ر ي

راځه‌چی‌د رقیب‌په‌زړوگی پو ر ي کړو او رو نه

نر څو به‌ستاد هجر ماښامو نه په‌ماو ر ي

ما کله‌سو ګند کړي‌چی‌دیار کو څی ته نه‌ځم

اشنازه ناخبره تو ستو نه په‌ماو ر ي

دیار دو صل کو رته یابه‌ځم یاخو به نه‌ځم

دابیا دچا کو څه کی پیغو رو نه‌په‌ماو ر ي

داځنګه دي ژ و ندو نه پرما ماتی سر کنډی کړي

خو بی‌ته‌دي‌ګام‌اخلم خو د ردو نه په‌ماو ر ي

نو څه‌شو م چی‌بیو سه‌شو م دچادمینی لار کی

مدام نو ي غزل نو ي شعر و نه په‌ما او ر ي .

۱۲ - ۹ - ۱۳٦٥

دمزارډيوی

په سخ دتو روښکو دردوسره درتلم
په زړه به ستاسحل ته له اسرو سره درتلم
تيار ي و ي تر و پسې وه دوصال لار ي و ي بندي
ډيو ي سې لګو لی له سجدو سره درتلم
دسينی تو ستی کړم رقيبانو ستاپه چم کی
زه بيا په هغه لاره پيغور وسره درتلم
جې ستاو ي اشار ي زماپه سر درځغليدل وو
سپر غې غو ندي په مينه داو رسره درتلم
رقيب راته و يل جې داشنا کو څه کی او ردي
په څو کو دبنو دخو شالو سره درتلم
زرګونه تو ستو نه راته سپاسينی پر ی ايښی
له زړه نه دسر و و ينو څخيدو سره درتلم
نو خو دبه مې ډيو ي دمزار خاندي هدير و کی
ديدن ته به زه ستادسو زيدو سره درتلم .

۱۳۶۵ - ۷ - ۱۴

دهجر اور

ستابه‌دچادزړه په کو ر کی شپه‌و ه

زسا دمینی پـه پیغو ر کی شپه‌و ه

لاپو ر و ړي ددیدن دي نه‌و م

پر و ن سی‌ستادمینی پو ر کی شپه‌و ه

چی‌مې‌خندان د رقیب‌څنګ‌ته لیدي

ستاپه‌نشو زماپه‌گو ر کی شپه‌و ه

په‌آذر ي لمبو دي‌و سو م ځکه

چی‌سی‌دهجر په سره او ر کی شپه‌و ه

پر ماد هجر گر دلی و او ښتی

ستادخو ږي‌مینی په‌شو ر کی شپه‌و ه

ځم‌په‌و ړو سلګو دمرګ پو لی ته

بیګاه‌سی‌ستاد هجر تو ر کی شپه‌و ه .

۱۳٦٥ ٦ - ۲۲

دزړه‌مراندی

څو پسر لی‌سی دژ و ندون خاندي

راتـه و ړسی دسباو و ن خـانـدي

ته کړه خو بو نه‌دو صال په‌زنگون

ماته‌دي غبرگ‌هجر بیلتون خاندي

دسباو و ن نسیم عطر و نه راوړل

زماپـه‌څنو کی جنون خانـدي

پتنگ‌یی‌و سو شمعه‌ژاړي و رته

په‌دي‌قانون‌و رته‌گردون خاندي

زمادزړه مراندي راپر یو تلی

ډک‌سی‌له سرو و ینو لړمون خاندي

څپی څپی په‌زړه غمو نه و هی

په‌حیرانتیا و رته جیحون خاندي

نن‌د رقیب تنده خوشاله و ینم

زماپښتون باندي پښتون‌خاندي

۱۹ - ۸ - ۱۳٦۵

داوښکو ساحل

سپرلی چې ستاد ګلو سپړ یده او رژ یده
کارو ان زما د هیلو خو ځیده او ستنیده

حیاد پښتنی مینی می ستر ګو کی اشنا
ګو ګل ته ستاد ستر ګو غو رز یده او شر میده

شیبو د انتظار کی می اشنا سیلاو داو ښکو
ګر یو ان ته ستا په یاد کی بهیده او تمیده

چا زیر ي و را کړي چې به ته په دي لار راشی
اشنا منتظر زړه می رغیده او ما تیده

داو ښکو د در یاب ساحل ته ناسته وم چې را غلی
نظر می په دي ډنډ کی ډو بیده او ځلیده

پښتون سر خو سی هسی هم چا تیپ لیدلی نه و
په مینه د اشنا کی لو ړ یده او نا زیده .

۷ - ۱ - ۱۳۶۵ هـ

دعشق کلی

تانه بیلیدل‌ی آشنانه‌دي زده

داپه‌او ر سو ځل می‌اشنانه‌دي زده

تاخو پیمانی په‌سر نسکو ر ي کړي

دا دو ینو څښل‌ی اشنانه‌دي زد ه

یادبه‌دژ و ندون کو‌می شیګنې کړم

زړه په‌سر خندل‌ی‌اشنا نه‌دي زده

یو ځلی و یاړم ستاپه هجر کی

سر په‌سر ژړل‌ی‌اشنانه‌دي زده

خپلی دنیاګی ته عشق و غوښتم

داغ په زړه خو ړل، ی آشنانه دي زده

هر څه به قربان کړم ستاله سترګو نه

پت نه او ښتل سی اشنانه دي زده

سترګو کی دي و ینم د ښکلا زیري

بل خو اته کتل سی آشنانه دي زده

داسی دي تکل، د عشق له کلی نه

بیر ته ګرځیدل سی اشنانه دي زده

اخلمه خوندو نه سوزیدو نه یی

دا دتپ ګټل سی اشنانه دي زده

۱۸ - ۸ - ۵۳۶۵

زولنی

زمادخولی نه‌چی لمبی و ختی
دلمر دستر گو نه شغلی و ختی
زه‌چی‌دیار کوخی ته‌لاړم په‌او ر
زاهده ! ستاولی تو بی و ختی؟
تاله‌یی‌شنه سهار خندل دخو بنی
په‌مایی تکنده غر می و ختی ؟
سباداو بنکو هد یر ي ته‌و رځم
که جنا زی‌د نیمی شپی‌وختی
مابه‌غو بتلی دما بنام کو څه کی
د نیمو شپو د عا بیر ي و ختی
ماخو په‌دو د د پښتنی آغوستی
خیاله‌و بنی دی‌زو لنی و ختی .

۱۹ - ۷ - ۱۳۶۵

د کاکاجی صنو بر حسین مو منددمشاعري په لړ کی د هغه په طرحه شوي غزل

دا د ي په مخ څه ښکار ي نو کار ي دي
دا ز مادغم داو ښکو لار ي دي

دپرهرستر گی

ستر گی می اشناځه گنهگار د ی
تاته په کتو کی چی مختار ي دي
مابه عشقه ستاپه ټال ز نگلی نه
اوس می په گو گل دو ینو دار ي دي
عشقه که پښتو ن یی ز ړه پښتو ن می دي
خیر که دز مان گو تی خو نکار ي دي

زه‌چې په‌لمن دسبا پر خه شوم
او ښکې‌په‌بنو مې‌خو کیدار ي دي

کیږده په تندي راته د مینې تو ر
داد محبت راجوړي لار ي دي

شر نګ‌سې دبنګړو دي ددنیا په‌مخ
سادزو لنو که‌لاکو کار ي دي

لاس‌د زمانې‌زیند ي را اچو ي
عشقه‌ستا کیسې نه‌هسې خوار ي دي

تاخو یاره ځکه زړه کې‌ګرځوم
دادڼې سترګې نظر دار ي دي

توپ‌ته‌دیاغې نظر پټې نه‌شو ي
سترګې‌دپر هر مې لاخمار ي دي .

۱۸ - ۸ - ۱۳٦٥

دغرمی اوښکی

چی سرو ري سی درنی اوښکی شوي
له مانه پاتی پښتنی اوښکی شوي
په ګريوانه مې سيلا بونه جوړشول
دچاپه ياد کی تکی سري اوښکی شوي
چی له تو پان دبرېو کو راوتم
چاراته ويلی چی اسري اوښکی شوي
ماضی سی خيال ستادوصال لرلو
اوس سی په پښو کې زولنی اوښکی شوي
که ته راځی که نه پروادي نشته
سيلمه په مادنيمی شپی اوښکی شوي
په وچو اوړه لمدو اوړو ينمه
خاونده داځنګه لمبی اوښکی شوي
ځنګه شوم ورکه دما بنام خړه کی
سيراتی شوي په غرمی اوښکي توي .

۱۹ - ۷ - ۱۳٦٥

غزل

خو به‌دی‌گیلی‌په‌زړه کی‌وساتم
گله ! ستااسري په‌زړه کی وساتم

خو دبه‌می تالاشی‌دژوندون سپرلی
زمچی‌شوگیري په‌زړه کی‌وساتم

گوري‌یه دخنو پریشانی زما
غابن که‌دشانی په زړه کی وساتم

خه‌نادو دي نه‌و ي جي‌دي‌و نه‌ كړي
ستا كو مي‌نخري په‌زړه‌ كي و ساتم

وگو ره سلگي‌مي‌ساه‌ي‌خيژ ي‌نو ر
خو سلگي و ړي په‌ز ړه‌ كي و ساتم

ستر گه‌دسباشه‌تر و ړمو تمه‌مي
قابه‌تو ر ي شپې په‌ز ړه‌ كي وساتم

ناله‌مي‌زړه‌سر په‌سر د عاو ي كړي
چاله‌داښير ي په ز ړه‌ كي وساتم

بخته لړيار ي راسره و كړه ته
تل‌به‌دي ډيو ي په ز ړه‌ كي وساتم

خو درقيبا نو له‌نظره پټ
سو ز نده لمبې‌په‌ز ړه‌ كي و ساتم .

٥ - ٨ - ١٣٦٥

تپوس

ستر گونه دي و ښته دا کتل کتل څه دي
غشی په گو گل ز ما سر په سر و يشتل څه دي

ستا د محبت په تو ر ښه شو چی تو ر نه شو م
ستر گه د سبا ښه يم 'و س نو پټيدل څه دي

جا و يلی چی ستا د عشق گل را شو کوي نه شم
سر په سر گونه مې يار ه په و ر بل څه دي

ر نځ د خو ږي مينی پټ په زړه کی ساتمه
او ښکو ته حير انه يم د اسی و ير کول څه دي

پر خه شو مه پر يو تم پښو ته دي اشنا پر و ن
خاو ر ي شو م ايري شو مه او س دي نو ژړل څه دي

زړه د صفيی را ته پتی د عا گانی کړي
لو ړ همت سی لو ړښه دي جا ر باندي و يل څه دي .

۲۷ - ۱۰ - ۳٦٥ ه

دیادگار دپیوی

سترگو کی موسکی شه چی جهان راته موسکی شی
شایی په گوگل کی می هجران راته موسکی شی
اوښکی تویو مه زه له سترگو دیار هجر کی
گوندي که ریښی ریښی گریوان راته موسکی شی
شمعی لگوم د زیا رتونظر په غاړه وړم
یو ځل که لیمو کی می جانان راته موسکی شی
خیر که می دژوند سپر لی اشناخزان ته ورسی
راشه دزړه کورته چی خزان راته موسکی شی
پریږده چی می خلك ستا په سینه تومتی کړي
بیادي داغ دمینی هر زمان راته موسکی شی .

٥ - ٩ - ٣٦٥ ه

جونګړه

ځان په او رسو زل دهر چا کار نه دي
داغ په زړه خوړل دهر چا کار نه دي
شمعه يم و يليږم خو خندېږمه
او ښکو کې لمبل دهر چا کار نه دي
ژوندنه تير يدل دمينې پوله ده
سر نه او ښتل دهر چا کار نه دي
او ر سره دي لو بې مينې ستا په سر
لو لپه کيدل دهر چا کار نه دي
ځلنده ډيو مشوم دسبام زړه کې
هداسې ځليدل دهر چا کار نه دي
زه شوم سپيلنې هر سازديګر درته
ځان لوګې کول دهر چا کار نه دي
زه وايم چې زړه ې دي دمينې کور
داپه جار و يل دهر چا کرنه دي
زړه دصفيې دعشق جونګړه ده
دي کو رته و رتلل دهر چا کار نه دي .

۱۰ - ۱۱ - ۱۳۶۵

سوی سپغ

چی‌د زگیر و نه‌سی ارمان راخاخی
او ښکی سی ځکه‌په‌گر یو ان راخاخی
زماپه‌سو ي او ستو مانه ژ و ندون
و ینی له‌ستر گو داسمان راخاخی
له‌مایی‌مه‌پو ښته‌چی سو ز م په‌او ر
له‌اسویلو نه‌سی هجر ا ن را خا خی

لکه دشمعی نیمه خو اپاتی شو م

او ښکی زما په شبستان را څاخی

په خو ار زړګی سی دچاغم میلمه دي

چی شو ګیر و نه سی خپګان را څاخی

له زړه سی دار ي دسر و و ینو ګو ره

په پا که سینه دجانان را څاخی

په تو پانی فضا کی خړه و یښم

بیا ترې سی او ښکی دبار ان را څاخی

که دي زما دزړګی رنځ و پو ښته

و ر و ستی سلګی نه سی احسان را څاخی

ستا دنظر غشی چی زړه کی لر م

سو ي سپر غی سی په داسان را څاخی

۱۷ - ٦ - ۱۳٦٥

داستاد حمزه شینواري دغزل په اقتفاء

موسیدلی هیلی

چې پسرلی په، موسیدو ښکاري

ښکلی ځوانی په و یښیدو ښکاري

بیا تماشو له دګلشن به ځمه

دزړه غوتی په غوړیدو ښکاري

دلاله خو له شوه د خندا نه ډکه

ځکه نرګس په شرمیدو ښکاري

بنایی سبابه‌سیل دگلو و کرم
زرگی‌سی‌بیاپه‌ر پیدو بنکار ي
غوتی‌احسان نو ردشبنم نه‌سنی
او بنکی زما په‌و ریدو بنکار ي
لکه پتنگ چی نا کراره یمه!
داسی‌احساس په‌پار یدرو بنکار ي
زړه‌سی تپیږي بیالیدو ته دچا
راته دنیا په‌تخنیدو بنکار ي
هیلی‌سی‌بیاپه‌سو سیدو بنکار ي .

۲۲ - ۱۲ - ۱۳۶۳

رښارښا يه‌وي تل

د چا په سوي گو گل

د چا په‌خيری گر يو ان

د او ښکو دار ي و ينم

ولـی

که‌جنگ

که دا کو ر و رانی جگړه

که‌دا دو ينو باران

په‌خو ښي و مينځل شی

او بیا همدغه جګړه

زما اوستا په ګلالی هیواد کی

شنه کروندې

زما اوستا کوچنی ماشوم

لکه د تاندي لښتی

زلمو تی وروڑ

پیغلو تی خو ربه زمو ږ

په خپلو سروو ینو کی

لکه ویشتلی نیمه خوا کو تره

نو رنو ونه شتیږي

بیابه هروسرو دسولی وړانګی

د دغو تولو پرسر

د دغو تولو پرمخ

خپلی شغلی خو ري کړي

ددغو تولو پرژوند

رنا رنا به وي تل .

۱۳٦٥ - ۱۰ - ۲۲

رنګينه دنيا

مادسپر لی په راتګ

تا ته‌د زلفو په‌و ريښمينو ليچو

تاته دستر ګو په‌ارامه زانګو

تاته دزړه دننه کو ر کی دي‌بستر خو رکړي

چی ته را خي

چی ته دتري لاري

پس له او ږدي مو دي نه

ته دسر و ګلو له‌غو تيوسره

ددي ګنو نو دعطر و نو په‌مخ

راته موسکی به‌شی بيا

بیا به په‌کاره سره

یو پسرلی د مینې

بل پسرلی دګلو

دیو ارمان‌او یو هوساژ و ندانه

خپلو شعر و نو کې به یې وسوسو

بیا به د خپلې سیمې

د کسې کورد کر و ندې په لور ي

سره په ګډه و رځو

د هاغې شنې کر و ندې

په څا او خوا کې به ګډونه کیږدو

ځان به به جو پو کړو رنګینه دنیا

د خو ږي مینې

د خوا په ژوند هوسایې په هڅه

هر څه چې ګو ره ییا په خاند و و ر ته ..

۱۳۶۶-۱۰-۱۰۲

غزل

زړه‌سی خو شاليږي داشنا په‌نو م

گل‌غو ندي غو ږيږي داشناپه‌نو م

ر اشی‌خو انيمر گه حياستر گو ته

ژ به چی چليږي د اشنا په نو م

دا غمجنی سترگی له‌مودو سودو

او بنکو کنی لمبیږي داشنا په‌نوم

تاسره‌و عده‌دژوندون کړاي‌نه‌شم

هر څه‌سی ختمیږي داشنا په‌نوم

څمه چی‌رسیږم کوردمینی ته

سترگی‌سی غړیږي داشنا په‌نوم

زړه‌سی‌نااشنادي دهرنوم سره

تل‌مدام بنادیږي داشنا په‌نوم

زمادترزړه‌یوتندي ماتښه دي

ژوندسی‌رنا کیږي‌داشنا په‌نوم‌ه

۲ - ۱۲ - ۱۳۶۵

جلال آباد

داهاغه کلی :

دهاغه کلی په‌او بده کوخه کی
زه له‌سودو مودونه تلمه راتلم
یو واري بیا راغلم په‌دغه لاره
گمان‌سی کیږي‌چی غلطه‌شوم په‌خپل کلی کی
څکه زما د کلی !!!

ویالی څپانه‌وی تل

و یالی تاندي په‌نځا و ي مدام

ان دهوا سرغی یی

تل نخیدي په‌سینه

اوس نو زما د کلی

پدي سپیره کوڅه کی

چې په چو پتیا خو ره ده

د و یر له و یر ځنی

اوس دڅپاندو و یالو

شو نډي سپیر ي سپیر ي دي

اوس هغه ښکلی ګلان

تول رژ یدلی ښکار ي .

هماغه تاندي غو تی

دلته اوس جل وهلی

د دی کوڅی ماشومان

ددي باغچی ګلو نه

ددي و لی ګل بو تی

خپه خپه ښکار یږي

هاغه خوشا له سرغی

تولی ما تم و هلی

په هره سا کی زغمی

د ژوندا نه غمونه

ځکه لا هم

مرګ و رته خا ندي

دجګړي سترګو کی .

دنظر اباد کلی

۱۸ - ۱۱ - ٦٥

حیا په اور

د یو اختر په ورځ
له انتظاره لري
سترګه په سترګه شو لو
ما خو هم ستا په سترګو
خوا ږه خوا ږه خیالی خو بو نه لیدل
په دو اړو سترګو کې ځ

د زړه درز اجوته

زما له‌بده بخته

د رنه حیا په پښتنه غیږه کې

بیوا که و نغښتله

هله سې‌ستر گی دحبا له اوړه

لکه دشمعی و یلی شوي اوښکی

پر ځمکه پر یوتمی

پر هر په‌ز ړه پاتی شوم

ځکه سې‌تاله داختر د ورځی

مبارکی و نه و یل .

۱۳٦٦ - ۱ - ۲۲

تل دگو ليو ډار و نکو غږو

که نه خو و بير و تل ماتم و او ژړاو ي به و ي

تل به خوانان په و ينو رنګ و دلته

تل به و ي بو رلی او و ير جنی مينډي .

دلته وی ګو نډي يتيمان بی شمير ه

دلته خو ښی

د لته ښا د ی

دلته خندا هيڅ نه و ه

نو اي ځلانده لمر ه ! !

او س چی ته خاندي را ته

شو نډي سو سکی دي و ينم

دلته دجنګ و رځی ختميږي به نو ر

ځکه ددي وطن دسو ر په غږ کی

هر څو ک چی و ينمه په شو نډو يی دسو لی نغمه

خو ره خو ره ښکار يږي .

۱۳٦٥ - ۱۰ - ۲۵

د حسن نذر

«کړي‌دي وعده وه درنه هیره شوه»
«دا څنګه تو به‌وه درنه‌هیره شوه»
زه دي خندنی دزمانی کړمه
سینه پښتنه وه درنه‌هیره شوه
ستا دهجر شپه‌سی کړله هیر خو
یاره ! څه‌وږده وه درنه‌هیره شوه
دواړه‌چی به‌مخ‌شو و نو سوسکی به‌شو و
بکلی نظاره وه درنه هیره شوه
زه دي رابلام کو ر دسینی ته
تکنده غرمه و، درنه هیره شوه
و ر کې‌دتو ر و ستر گو په کوخه کی‌شوي
زما د زلفو شپه و، د رنه هیره شوه
نذر دي د حسن و ر کولو خو
هلته صفیه وه درنه هیره شوه .

۲۲ - ۳ - ٦٦

دمینی گلان

ما دسپیخلی پاکی مینی له‌بن
راوړي تالره ځولی گلونه
بیامی گیډي له‌سر وگلونو جوړي
ستا په‌پټکی او خپل و ربل کی ږدمه
پاتی گلونه بـه‌غنچی غنچی کړو
دچاپـه‌دوا ړو پښـو کی
ددي غنچو ، گیډي گیډي به کیږدو
بیابه‌په‌گډه سره هغه‌مالي ته و ر شو
چی سره گلونه کړي
د زړه غمونه په‌خو ښیو مینـځی
په پاکـو زړونو کی بیا
چی‌پاک له هر څه نه‌و ي
هم‌له‌بدیو څـخه
هم له کینی کدو رتونو ځنی
پاک له ریـا و و ځخه
د خوا خو ږي سپیخلتیا

صفیه صدیقی د عبدالرزاق صدیقی لور.
په ۱۳۴۲ ش کال کی د ننګرهار ولایت
د سره رود دولسوالی د نظرآباد د کلی په
یوی روحانی کورنی کی زیږیدلی ده.
په ۱۳۶۲ هـ ش کال کی د خصوصی
زده کړی نه و روسته د زرغونی لیسی په
لسم ټولګی کی شامله شوه. په ۱۳۶۳ کال کی د دغی لیسی د دولسم ټولګی
نه فارغه شوه د دولسم ټولګی د فراغت او د کانکور له ازمویني څخه وروسته یی
د کابل پوهنتون د حقوقو او سیاسی علومو په پوهنځی کی په زده کړو پیل وکړ.
چی اوس هم په کابل پوهنتون کی په زده کړو بوخته ده.

صفیه صدیقی د ۱۳۵۸ ش کال را هیسی شعر وایی تر او سه یی زیات شعرونه او
لیکنی د هیواد په مطبوعاتو کی خپری شوی دی. لو پته د هغی د شعرونو مړنی
چاپی مجموعه ده.